دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۰/۱۰/۱۶

# په اساسي قانون کې د جعفري فقه د تداخل څرنګوالې

**د دوحې د سپتمبر د میاشتې د بین الافغاني مذاکراتو په درشل کې، په کابل کې د ایران سفارت د یوی اعلامیې له لارې د افغانستان اوسني اساسي قانون او په کې د قومي لږکیو د حقونو نه ملاتړ وکړ. د اکتوبر په لسمه نیټه د ولسمشر دوهم معاون سرور دانش او محمد محقق په دوحه کې د پخلاینې او سولې په آدرس خصمانه او ورانونکې څرګندونې وکړلې. دواړو غوښتل چه د طالبانو د دریز په وړاندې د اعتراض په پلمه، د سولې پروسې ته تاوان ورسوي.**
**سولې سره د دانش او محقق ضد دریز موږ دی ته اړ کړو چه د وطنوالو پام ځینو واقعیتونو ته راجلب کړو.**

* * *

کله چه امریکا د تروریزم سره د جګړې په پلمه په افغانستان باندې یرغل وکړ، د نیویارک چاودنې د هیجاني فضأ تر اغیز لاندې په سیمه کې د امریکا سره د ملګرتیا اجماع موجوده وه. ایران امریکا ته د افغانستان د اشغال په مقصد صادقانه استخباراتي مرستې ورسولې. قاسم سلیماني د قدس د ځواکونو قوماندان ایران سره تړلي افغان هزارګان وهڅول چه د امریکا تر بیرغ لاندې د شمالي تلوالې په ائتلاف ورګډ شي او د طالبانو په ضد وجنګیږي.
امریکا لیوالتیا درلوده چه د تروریزم ضد په جګړه کې له ایران سره پخواني خصومت وځندوي او خپل تول جنګي ظرفیت په واحده جبهه کې د طالبانو مقابلې ته متمرکز کړي.
ایران دی ته په تمه و چه د طالبانو له ماتې نه وروسته، امریکا سره د خپل همکارۍ په بدل پاداش تر لاسه کړي. د ایراني مقاماتو له انده د بن غونډه، د نوې حکومت جوړول او ورپسې د نوې اساسي قانون تنظیم، مناسب وختونه و چه د جعفري فقه د پیروانو په ګټه اقدامات تر لاس لاندې ونیول شي.
امریکا د افغانستان په جګړه کې د ایران ملګرتیا ته د شک او عدم اطمینان په سترګه کتل او د دې په مقصد چه د هغه هیواد باور ځانته راجلب کړي له یوې خوا د بن د غونډې نه وروسته د افغانستان په لمړي کابینه کې د جعفري فقه یوولس پیروانو ته د ګدون زمینه برابره کړه او له بلې خوا ئی په نوې اساسي قانون کې حنفي فقه سره علی السویه جعفري فقه ته هم رسمیت وروبانه.
د افغانستان په سیاسي تاریخ کې دا لمړي ځل و چه د دیرشو حکومتي وزارتونو نه یو په دریمه برخه هزاره ورونو ته وسپارل شول. په افغانستان کې لمړي ځل و چه جعفري فقه د اساسي قانون په کچه باور تر لاسه کړ او د قضایي سیستم د اوږد تاریخ وحدت او تجانس ئی تر سوال لاندې راوست.
په دې حساب ایران د نولس کلنی جګړی په لمړیو کلونو کې د امریکا ملګري او تر میز لاندې د کرزي تمویل کونکي

پاتي شو.
اوسمهال د جعفري فقه پیروان او د هغوي بهرنی ملاتړ یعني ایران دعوا لري چه هغه امتیازات چه د ۱۹ کلن اشغال په موده کې د سیاسي اغراضو له کبله دوي ته ورکړل شوي، باید په راتلونکي خپلواک افغانستان کې خوندي وساتل شي.
د حقوق په ساحه کې یوې برخې ته « مکتسبه حقوق » ویل کیږي : یو واقعي یا حکمي کس هغه وخت د مکتسبه حقوق تر نامه لاندې د یو حق یا امتیاز د لرلو دعوا کولی شي چه د یاد امتیاز نه په منظمه او اصولي توګه ګټه پورته کړي. د جعفري فقه پیروان د همدې اصل پر بنسټ په اساسي قانون کې د جعفري فقه د دائمي تداخل نه ملاتړ کوي. خو دلته څو ستونزو ته باید پام وشي :
۱- مکتسبه حقوق په یو آزاد او خپلواک هیواد کې د <u>کورنیو تعاملاتو په بنسټ</u> جوړښت مومي. خو کله چه کورني تعامل د بهرني مداخلې له لارې تر سوال لاندې راځي د یو بهرني متعرض هیواد په لاس د جګړې غنیمتونه ویشل، هیڅ کله د مکتسبه حقوق د رامنځته کیدو اصولي لامل ګرځیداي نشي. د همدغه منطق له مخې دوستم د مارشالي دعوا، کرزي د کابل هوایي ډګر د نوم دعوا او اهل تشیع په اساسي قانون کې د جعفري فقه د تسجیل دعوا مطرح کولی نشي.
که دغه استدلال ته لازیاتي پراختیا او عمق ورکړو کله چه اشغالګر امریکا دیته حاضر شو چه د طالبانو سره رسمي خبرې وکړي یعني طالبان د مقاومت د مشروع ځواک په توګه په رسمیت وپیږني، په افغانستان کې د امریکا تر بیرغ لاندې ۱۹ کلني لاسته راوړني تر سوال لاندې راځي. وسله وال مقاومت د هیواد د خپلواکي د تأمین په لور حق لري چه د اشغالګر امریکا په لاس جوړې شوې اساسي قانون، د حکومتونو اجراآت، د امریکا سره امنیتي تړون او ورته تولیدات مشروعیت تر پوښتني لاندې راوړي.
۲- مکتسبه حقوق باید په منظمه توګه تر استفادې لاندې وي. په ټول افغانستان کې په نولس کاله کې هیڅ یوه محکمه د جعفري فقه په بنسټ پریکړه نده کړې. د اساسي قانون حکم د کاغذ په سر متروک پاته شوې.
۳- د افغانستان اساسي قانون د ریاستي نظام په چوکات کې د قدرت د تمرکز پر بنسټ ولاړ دی. د افغانستان په اساسي قانون کې د جعفري فقه تسجیل د یو متمرکز دولتي سیستم سره نه جوړیږي. اجرایي، قانوني او قضایي صلاحیتونه ویشل په یو فدرالي دولت کې مطرح کیږي چه په هغه کې د دولت مرکبات ( ایالات) هر یو جلا اساسي قانون او ورسره اجرایي، تقنیني او قضائي اورګانونه لري.
په ټولو اسلامي هیوادونو کې هغه مذهب ته د اساسي قانون په کچه قضایي اعتبار ورکړ شوی چه پیروان یې اکثریت دي. د مثال په توګه په ایران کې شیعه او په سعودي عرب کې حنبلي مذهب په رسمیت پیرندل شوی دی.
په ځینو هیوادونو کې لکه کویت چه په سلو کې ۲۵شیعه وګړي لري، اساسي قانون په قضایي اجرائاتو کې د یوه ځانګړي مذهب نوم نده اخیستې. یوازې اسلام ته رفرنس ورکړی دی.
په زیاتو اسلامي هیوادونو کې اساسي قوانین، مختلفو مذهبونو پیروانو ته د مذهبي مناسکو اجرأ، په پارلمان کې استازیتوب او د مذهبي مدارسو د اداري حق په رسمیت پیرندلی. خو په عمل کې یادو شوو حقونو ته درناوي نه کیږي : په شمالي افریقا کې شیعه لږکي د مخالف عامه ذهنیت د ویرې نه عاشورا ورځ په پټه نمانځي.
په هر حال! په اسلامي هیوادونو کې چیرته چه اهل سنت اکثریت لري، اساسي قوانین په شخصي احوالو کې هیڅکله شیعه مذهبي لږکیو ته جلأ قضایي نظام په رسمیت نه پیرني.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

# نتیجه

بهرنۍ مداخله او اوږد مهاله جګړه سیاسي، قاومي او مذهبي کړیو ته غیر طبعي او بیځایه غوښتني زیږولې.

په افغانستان کې ۱۹ کلنه بهرني لاسوهنه او اشغال په ټولنه کې د سیاسي، قاومي او مذهبي کړیو تر منځ د قدرت د ویشلو مصنوعي سیستم رامنځته کړی دی. اوس د مصنوعي سیستم ګټه اخیستونکي په آساني دی ته نه حاضریږي چه په وطن کې د امنیت او آزادي په بدل د هغه امتیازاتو نه لاس په سر شي چه بهرنیانو ته ئی د خدمت په بدل کې تر لاسه کړي دي.

واقعیت دا دی چه هیڅ امتیاز چه د بهرنیو مداخلو زیږنده وي او د کورني تعاملاتو په بنیاد په یو خپلواک افغانستان کې رامنځته شوی نه وي نه مشروعیت لري او نه هم دوام.

د مذهبي او قومي لړکیو د حقونو تأمین د امنیت او سولې د ضمانت په مانا ده. خو په دي شرط چه حق او امتیاز د بهرنیانو د « حاتم بخشي» محصول نه وي او عدالت د اغراضو او مصلحتونو قرباني نشي.

**« پاي »**

**فرانسه**



[د ډاکټر روستار تره کي د نورو لیکنو لپاره، دلته کلیک وکړی]


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com